باری عارض ۲۰۱۶/۰۳/۱۸

سوله او پرتې ستونځې

په دی ورستیو کې د سولې او خبرو اترو ګنګوسو زور اخیستی دی، په ولس کی هیلی او ناهیلی یو شان خوتیږی که له یوه اړخه څلور اړخیزه غونډو امیدونه زیږولی دي، خو له بله اړخه نړۍ او افغان ولس د کلونو څیړنو او ازمایلو وروسته دی پایلی ته رسیدلی دي، تر هغو چی، مفسد او غاصب چارواکی یو مخ د واک څخه و نه شړل سی او د بی مسولیته توپکیانو ډلو ټپلو ته خاتمه ورنکړل سی، د امنیت، سولی، عدالت او یووالی اټکل کیدای نسی.
همدا رنګه د کلونو راهیسی د واکدارانو چل ول ولس پر حکومت او سیاست کاملاً بی باوره کړی دی. اوس ستونځمنه ده یوازی د فاسد او غاصب چارواکو د واک څخه شړل د ولسونو باور اعاده کړی، بلکه د هغوی محاکمه او د عدالت میز ته را کشول کولای سی ولس په عدالت باوری، نړیواله مرستندویه څانګی مطمئن او د فساد سره مبارزه یقینی کړی. او دا کار یوازی او یوازی د سولی په بهیر کی نغښتی دی ځکه اوس یو اړخ د بل اړخ د نه شتون څخه ګټه پورته کوی او د فساد لمنه پراخوی.
د ټاکنو ناری سوری په هیڅ ډول نسی کولای د سیاسی لوبو په پایله کې حکومتونو ته منطقی رنګ ورکړی او یا سوله تأمین، عدالت پلی او د مصونیت فضا رامنځ ته کړی، نو ځکه باید تول امکانات د افغان یووالی په لاره کې وکارول سی تر څو د طالب او حکمتیار سره د سولی بهیر ګړندی سی. شک نسته چی خبره یوازی د طالب او شمال ټلوالی تر منځ نده، بلکه بهرنی ابعاد هم لری نو ځکه د سیمې او سترو هیوادونو توافق د لمړیتوبونو څخه دی زموږ په کور کی پردی جګړه روانه ده او د پردیو ګټې تأمینوی، نو ځکه د افغان سولی په بریالیتوب کی د امریکا صادقانه دریځ او اراده تر ټولو اغیزمن او ګټور تمامیدای سی، سره له دی چې باور ستونځمن دی.
سوله کول لکه جګړه کول توانمندی غواړی له بده مرغه افغان حاکم اړخ دومره ناتوان سوی او دومره یې د ولسونو سره واټن ډیر سوی دی چې، نسی کولای پخپله د سولی ابتکار په لاس کی واخلی لویه بدبختی خو لا داده چې په یوه حکومت کی تر لسو زیاتی ډلی د بیلو بیلو ارمانونو لرونکی د بیلو بیلو ایډه لوژیو څښتنان د بیلو بیلو اهدافو لپاره د بیلو بیلو هیوادنو ملاتړ لرونکی سره راټول سوی دي چې په هیڅ صورت د سولی په بهیر کې د واحد دریځ لرونکی نسی کیدای. سوله قدرت، قوت او واحده پالیسی غواړی، سوله ولسی ملاتړ ته اړتیا لری، سوله د اړخونو په ظرفیت ښوولو سره ممکنه کیدای سي او دا هغه څه دي چې لااقل په اوسنی حالت کې نه تر سترګو کیږی.
تر ټولو د پام وړ دا چې، زموږ په هیواد کی د امریکایانو له برکته سیمه ایزه واکداران رامنځ ته سوه بی مسؤلیته ډلې ټپلې پیاوړې سوې ډول ډول اسلحې او تجهیزات یې ترلاسه کړه په لس هاو پټ سلاح کوټونه جوړ سوه. دا وسلوالې ډلې ټپلې تر واحدې او مشخصې قوماندې لاندې نه دي هر یو په خپله خوښه عمل کوی نو ځکه لاقانونیت او معافیت د قانون د ورځنی اصل په توګه مطرح سو کله چې، د قانون حاکمیت نه وی طبعی خبره ده چې، عدالت شتون نلری او د یو غیر عادلانه ټولنې امنیت هم ستونځمن کار دی په دغسې حالت کې به سوله د چاسره او پر کمو اصولو تأمین سی. همدا شان د مخالفینو په برخه کې ډیری ستونځې سته هغوی هم د واحد مرکزیت څخه بی برخې دي له همدې کبله خواره واره سوه، پر بیلابیلو ګروپونو او ډلو وویشل سوه، په داسی حالت کې د سولې بهیر هم د معما حیثیت خپل کړی دی
د پورتنیو ستونځو سره سره یو تعداد نور افغانان په څلور اړخیزه غونډو کې د امریکا او چین ورګډیدل هیله مند کړی دي په خاصه توګه د امریکا اراده د جګړې د ختمیدو لپاره جدی ارزوی. هغوی د طالبانو را پرځول، پرعراق حمله، په سوریه کې ورانی او مړینې ته په کتو امریکا توانمنده بولی او معتقد دي چې جګړه او سوله یوازی امریکا رامنځ ته کولای سی، هغوی په دی آند دي چې امریکا په نوې بڼه جګړه په افغانستان کې پیل کړه او ختم یې هم د امریکا اخلاقی دنده ده. د دی ترڅنګ د حکمتیار سره روانې خبرې د امیدونو د پیاوړتیا په لور مهم ګام ارزول کیږی د هغه راګډیدل په حاکمیت کی بی له شکه فساد ته مهم ګذار ګڼل کیدای سی او که طالب هم را ګډ سی قطعاً به د فساد ریښې وچې سي او هیواد به د یقینی بیا رغونی په لور چټک ګامونه پورته کړی.
دا چې، د طالبانو سره سوله په هیواد کې سرتاسری امنیت تامینولای سی که یه د پام وړ خبره ده هیلی داسی دي چې، امریکا باید د جګړې توله رنګونه په افغانستان کی ختم کړی، اما دا چې د جګړې بل رنګ د داعش په نامه هم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مهار کیږی او که د طالبانو د مقاومت په ختمیدو نوی رنګ د جنګ پیاوړی کیږی، هغه خبره ده چی په ولس کي يې د شک او تردید سیوری غوړولی دی. یو مطلب باید واضح وی چې، هیڅ بهرنی هیواد د بل هیواد لپاره بیله هیڅ هدفه خسارات نه ګالی، اوس امریکا د هیواد په عُمق کي موقعیت لری د اقتصاد په برخه کي سربیره پر هغه درنو مصارفو چې د ځان لپاره يې په افغانستان کي لری زموږ بیارغونه، د ملی بودیجه پوره کول، د امنیتی ځواکونو اکمال و تجهیز هم د امریکا په غاړه دی، بیله شکه زموږ د دیپلوماسی په تنظیم کي اهم رول لری.نو ځکه د سولې په څرنګوالی د امریکا شرایط او غوښتنی د پامه نسی غورځیدلای یا په بل عبارت افغان لوری د امریکا د مشورې پرته نسی کولای د سولی په بهیر کی مستقلانه اهداف غوره کړی لکه طالبان چې نسی کولای دخپلو متحدینو د مشوری پرته اهداف مشخص کړی. دا هغه تریخ واقعیت دی چې د افغانستان په سوله کي لمړی باید د سیمی او نړۍ په ګټو کی د همږغی هڅه وکړی په دوهم مرحله کي د افغانانو خپل منځی حل مطرح کیدای سي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ